نړیوال بانک
له بي وسۍ فقر او غربت څخه ژغورلي
نړۍ ته د رسیدلو لپاره هلې ځلې

**خبري خپرونه**

| | |
|---|---|
| اړیکي:<br>نړیوال بانک په کابل کی: عبدالرووف ضیا ۷۰۰۲۸۰۸۰۰ (۹۳)<br>Azia@worldbank.org<br>نړیوال بانک په واشنگټن کی: اریك نورا ۴۵۸ ۴۷۳۵ (۲۰۲)<br>enora@worldbank.org | شمېره: SAR |

# نړیوال بانك په افغانستان كې د اوبو لګونې د سیستم بنسټیزې پراختیا لپاره نوره مرسته كوي

**واشنګټن، د جون د میاشتې ۱۲مه، ۲۰۰۸کال:** نن نړیوال بانك د افغانستان د دولت د هڅو د ملاتړ لپاره ۲۸ میلیونه امریکایي ډالره وړیا مرسته منظوره کړه ترڅو ددې هېواد په کلیو او بانډو کې د اوبولګونې سیستم بیاورغول شي او د اوبیزه کرهنې حاصلات پراختیا ومومي.

د اوبو لګونې د سیستمونو د بیارغونې د بیړنۍ پروژې سره ددې نوې مرستې موخه داده چې د اوبولګونې د بیارغول شویو سیستمونو لپاره په جاري توګه اوبه ورسول شي ترڅو د اوبو لګونې وړ ځمکې کچه او کرهنیز حاصلات زیاتوالی ومومي. نړیوال بانك لمړی د ۲۰۰۴ کال د ډسمبر میاشتې په ۲۳مه نېټه ۴۰ میلیونه امریکایي ډالره د بې ګټې پور (کریډټ) په توګه منظور کړل او وروسته یې بیا د ۲۰۰۷ کال د اپریل میاشتې په لسمه نېټه، ۲۵ میلیونه امریکایی ډالره وړیا مرسته هم ورکړه.

دې پروژې د خپل پیل راهیسې د پام وړ پرمختګ درلودلی دی چې په هغې کې د اوبیزه ځمکې او کرهنیزو حاصلاتو د پام وړ ډېرښت د یادولو وړ دي. په هغه سیمو کې چې د بیا رغونې کار بشپړ شوی دی د اوبو لګولو د سیستم اغېزمنتیا هم د پام وړ ښه شوې ده. کابو ۸۳۰۰۰ هکتاره کرهنیزه ځمکه تر اوبو لګولو لاندې راغلې او د غنمو حاصلات په سلو کې ۲۵، د کچالانو په سلو کې ۴۵، د پیازو په سلو کې ۱۸۹ او د مالوچو حاصلات په سلو کې ۵۹ زیات شوي دي. همدا راز، د اوبو لګونې د سیستم په مهمو برخو کې د هایدرولیکي دایمي جوړښتونو موجودیت ددې لامل شوی دی چې د بزګرانو د وخت له ضایع کېدو څخه مخ نیوی وشي او د هغوی کاري لګښتونه راټیټ شي. دا پروژه د افغانستان د شپږو سیندونو په ټولو حوزو کې چې د کابل، جلال آباد، کندهار، هرات، کندز او مزار شریف ښارونه پکښې ګډون لري، فعالیت لري.

د افغانستان کرهنیز سکټور د څو کلنو جنګونو، سیاسي بدلونونو، ورانوونکو سیلابونو او وچکالۍ، او د اوبو لګونې د سیستم بنسټیزه جوړښتونو ساتنې او ترمیم ته د نه پاملرنې له امله زیانمن شوی دی. اوس مهال، د دې هېواد د اوبولګونې سیستم بنسټیزه جوړښتونه په ناوړه حالت کې واقع دي. د خلکو دودیزه سیستمونه ( د میراَو سیستم او د اوبولګونې د پروژو د ګټې اخستنې او ساتنې مسؤول دولتي ارګانونه کمزوري شوي دي. د ځمکې لاندې کوچنیو کانالونو (کاریزونو) کابو په سلو کې اویا د ګټې اخستلو وړ ندي. د سیندونو د اوبو د مخې اړوونکو جوړښتونو ډېری شمېر چې د اوبولګونې کانالونو د اوبو برابرولو لپاره کارول کیږي، په سمه توګه فعالیت نلري او د کانالونو زیات شمېر لویې او عادي شبکې ورانې شوي دي. په پایله کې، د اوبو لګولو پروژې

یواځې **۲۵** په سلو کې اغېزمنتیا لري (خو نورم یې د **۴۰** او **۶۰** په سلو په شا او خوا کې دی) او د جګړو څخه مخکې د کرهنیزه ځمکو له ډلې څخه اوس یواځې د درېمې برخې ځمکو اوبه لګونه د داسې پروژو له لارې ترسره کیږي.

*« سره لدې چې تر اوسه زیاتې لاس ته راوړنې شوې دي خو د اوبو لګولو د سیستم بنسټونو د بیارغونې لپاره د افغانستان اړتیاوې اوس هم خورا زیاتې دي.»* دا خبره **عثمان قمر چې د کلیو پراختیا چارو لوی کارپوه او ددې پروژې د ټیم مشر دی،** څرګنده کړه او زیاته یې کړه چې: *«دا پروژه به د کرهنیزو فعالیتونو د پیاوړتیا لامل شي چې د کرهنیزو فعالیتونو پیاوړتیا په خپل وار سره د بزګرانو د عوایدو د زیاتوالي، د خوراکي توکو د شتون خوندیتوب، او په کلیو کې د کار موندنې او د زیانمننې د کمښت سبب ګرځي.»*

دا مرستندویه بسپنې به په خاصه توګه د اوبو لګونې د سیستمونو د بیارغونې **۳۴** منځنیو او لویو پروژو او همدا راز د اوبولګونې د پروژو د پلې کېدو اړوند څېړنو او د انجنیرۍ د پراخو ډیزاینونو لپاره وکارول شي. تمه ځي چې ددې پروژې په ختمېدو سره به ۴۲۰۰۰ هکتاره ځمکه د اوبو لګولو جوړښتونه ولري او حاصلات به یې زیاتوالی ومومي. همدارنګه دا پروژه به د افغانستان د هایدرومیتیورولوژیك شبکې د پراختیا سره مرسته وکړي. ددې شبکې د پراختیا په لړ کې به په ۴۰ مهمو ځایونو کې کیبلي جوړښتونه نصب شي ترڅو میتورولوژیك وسایل پکښې ځای پرځای شي او په دې توګه به د سیندونو د اوبو جریان او د اوبو شتون په ښه توګه اټکل شي او سیلابونو او وچکالیو اړوند به مخکې له مخکې خبرتیاوې ترلاسه شي.

دا وړیا مرسته د نړیوالې پرمختیایي ادارې له خوا چې د نړیوال بانك د امتیازي پورونو څانګه ده، برابره شوې ده.

په افغانستان کې د نړیوال بانك د چارو په هکله د لازیاتو معلوماتو لپاره لاندې انټرنټي پاڼه کتلای شی:
http://www.worldbank.org.af

ددې پروژې د اړوندو معلوماتو لپاره لاندې پاڼه کتلای شی:
http://go.worldbank.org/SHZ9UVTP60